
د قافئې علم

(لنډه پېژندګلو)



ډاکټر دیدار یوسفزے

Download from:aghalibrary.com

د قافئې علم (لنډه پېژندګلو)

قافيه د عربۍ ژبے لفظ دے مصدر ئې قفو او معنا ئې وروستو تلل دي - ۀۀ قافيه کښې به ساکن او متحرک حرفونه ۀۀ خپل ځائے وي - لکه تنګ او جنګ کښې ت او ج متحرک دي او پاتې ساکن دي -

د قافئې ارکان

د قافئې ټول ارکان نهه دي -

حرف روي :

حرف روي د قافئې بنياد دے - د دې نۀ مخکښې او وروستو څلور څلور حرفونه ۀۀ هغه صورت کښې راوړے کېدے شي - چې روي د قافئې ۀۀ مينځ کښې راشي - وړاندينې حرفونه اصلي او وروستينې وصلي بللے کيږي - خو ضروري نۀ ده چې ۀۀ يوه قافيه کښې دې دا ټول وي - لکه ۀۀ سر ، ور او غر قافيه کښې " ر" حرف روي دے - او ۀۀ نورو حرفونو زور (زبر) دے - د داسې غزل ۀۀ قافيه کښې به صرف روي او د زور (زبر) حرکت تکراريږي -

اصلي حرفونه ۀۀ لاندينې ډول دي :

Download from:aghalibrary.com

حرف تاسيس : هغه ساکن الف چې د روي نه مخکښې راځي خو د روي او د دې الف تر مينځه د ټرون حرکت راغلے وي - لکه پۀ قابل او قاتل قافيه کښې الف حرف تاسيس دے -

حرف دخيل : هغه متحرک حرف چې د روي او حرف تاسيس پۀ مينځ کښې راشي - هغې ته حرف دخيل وائي - لکه پۀ قابل او قاتل قافيه کښې ب او ت حرفونه حرف دخيل دي -

حرف ردف : کۀ د روي نه مخکښې د علت حرفونه (الف ، و، ی) پۀ ساکن حالت کښې راشي - او حرکت ئې د دغې حرفونو سره موافق وي - لکه د الف نه مخکښې د زوَر ، د واو نه مخکښې د پېښ او د ی نه مخکښې د زېر حرکت نو هغې ته حرف ردف وئيلے کيږي - لکه پۀ زار، نُور او پير کښې د الف ، واو او ي نه مخکښې موافق حرکتونه دي -
کۀ چرې د حرف ردف او حرف روي پۀ مينځ کښې ش , ر، ف ، س، خ, ن (شرف سخن) ساکن حرفونه راشي - نو دې ته ردف زائد وئيلے کيږي - لکه د شناخت ، شوند او زيست پۀ قافيو کښې خ، ن او س توري ردف زائد دي -

حرف قيد : دا دوه قسمه دے

Download from:aghalibrary.com

اول ؛ کۀ چرې د روي نه مخکښې حروف علت پۀ داسې حالت کښې راشي - چې مخکښې تري موافق حرکتونه نۀ وي - نو هغه حرف قېد بللے کيږي - لکه پۀ پور او سپر قافيه کښې واو او ې حرف قېد دي -

دوئم ؛ کۀ د الفبۍ د پاتې حرفونو نه يو حرف د روي نه مخکښې ساکن راشي - نو دې ته هم حرف قېد وئيلے شي - لکه سخت ، بخت او تخت کښې خ حرف قېد دے - زياتره دا لاندينې لس حرفونه د حرف قېد پۀ توګه راځي -

لکه ب ، خ ، ر ، ز ، س ، ش ، ع ، ف ، ن ، ه

نوټ : د بې واکه تورو پۀ حرف قېد او د ردف زائد پۀ تورو کښې دا فرق دے - چې د حرف قېد نه مخکښې راغلے تورے به حرف ردف نۀ وي -

وصلي حرفونه پۀ لاندينې ډول دي -

حرف وصل : پۀ روي ورپسې حرف لکه پۀ ملکه او هلکه کښې " ه" حرف وصل دے -

حرف خروج : پۀ وصل ورپسې حرف لکه پۀ سنګين او رنګين دواړو قافيو کښې ګ حرف روي ، ي حرف وصل او اخيري ن حرف خروج دے -

حرف مزيد : پۀ خروج ورپسې حرف لکه هلکانے قافيه کښې ے حرف مزيد دے -

حرف نائره : پۀ مزيد ورپسې حرف کۀ راشي -

Download from:aghalibrary.com

پۀ وصلي حرفونو او روي کښې د فرق کولو اسانه طريقه دا ده - چې د روي نه بغېر لفظ مبهم شي او د وصلي حرف لرې کولو نه لفظ نه مبهم کيږي -

نوټ : ځينې پوهان د وصل حرفونه د رديف برخه هم ګڼي - خواه کۀ دغه کلمه وي او کۀ مهمل -

د قافئې قسمونه

د روي پۀ لحاظ د قافئې شپږ قسمونه دي -

موسس : چې د تاسيس حرف لري - لکه پۀ قابل او قاتل کښې الف -

مدخول : چې د دخيل حرف لري - لکه پۀ ماهر او ظاهر کښې ه -

مردف : چې د ردف حرف لري - لکه پۀ کال او شال کښې الف -

مقيد : چې د قيد حرف لري - لکه سخت او بخت کښې خ -

موصوله : چې د روي نه وروستو د وصل حرف يا حرفونه لري - لکه پورتني مثالونه -

مجرد : چې قافيه يواځې پۀ روي او حرکت اډانه وي - لکه د سر، بر او ور قافئې کښې زورکے او ر -

د قافئې عمومي عيبونه

ايتا : پۀ مطلع کښې د قافئې لفظي او معنوي تکرار ته وائي - کۀ ښکاره او لويه وي نو ايتائے جلي او کۀ پټه يا وړه وي نو خفي بللے کيږي -

Download from:aghalibrary.com

اِکفا : چې کله د روي حرفونه بدل وي- لکه لاس او اخلاص - ځنې شاعران دې ته صوتي قافيه وائي - او ټيک ئې ګڼي خو دا ټيک نۀ ده -

غلو : چې يو ځائے د روي حرف ساکن او بل ځائے متحرک وي -

سِناد : چې کله حرف قيد جدا وي - لکه پست او سخت کښې س او خ - د جمع قافيو کۀ واحد روي يو شان نۀ وي - نو دا هم عيب دے - د دې نه علاوه کۀ د مطلعې پۀ دواړه مصرعو کښې د حرف تاسيس يا د حرف دخيل تکرار وي نو پۀ پوره غزل کښې ئې بيا پابندي ئې لازمي وي -

---

حوالې :

علم قافيه : پروفيسر حميدالله شاه ہاشمی

علم قافيه : ممتازالرشيد منہاس

اسان علم قافيه : محمد يعقوب آسی